# د خان عبدالولي خان ملټي پلېکس د بنیاد ایښودنې د دستورې رپورټ

قاضي حضور الله




د فرورۍ د میاشتې په اتمه نېټه ۲۰۰۹ د پښتونخوا صوبې وزیر اعلي امیر حېدر خان هوتي د خالي په ورځ د سول سېکرټرېټ په احاطه کښې د خان عبدالولي خان ملټي پلېکس د بنیاد ایښودنې پرانسته وکړه. په کېبینټ روم او لائبرېرۍ مشتمل د دې ملټي پلېکس درې چته ابادي به د درې ویشت کروړه روپو په لګښت دربو کالو کښې سر ته رسي.

د ملټي پلېکس د پرانستې په موقع د عوامي نېشنل پارټۍ ټول صوبائي او وفاقي وزیران، د قومي او صوبائي اسمبلو ممبران، خدائي خدمتګار، مرکزي او صوبائي عهدېداران او نور د پارټۍ ګڼ شمېر کارکنان موجود وو. د سټېج سکتر فرائض د اطلاعاتو صوبائي وزیر میا افتخار حسېن تر سره کړل. د دې تقریب شروع د کلام پاک نه وشوه بیا ګلزار عالم د غني خان مشهوره ترانه «اے زما وطنه د لالونو خزانې زما» واوروله. د عوامي نېشنل پارټۍ مرکزي اېډیشنل جنرل سکتر ښاغلي هاشم بابر صاحب رهبر تحریک ته د نظم په شکل کښې د عقیدت ګلونه وړاندې کړل. دوي په خپل نظم کښې د رهبر تحریک سوچ، فکر او سیاسي پوهه په ډېرو ښو ټکو کښې وستائیله. په دې تقریب کښې وزیر اعلي امیر حېدر خان هوتي، بېګم نسیم ولي خان، افراسیاب خټک او صوبائي سینئیر وزیر بشیر احمد بلور د خپلو خیالاتو اظهار وکړو. ټولو مقررینو د ولي خان په ژوند، سیاست، افکارو، جمهوري جدوجهد او د پښتون اولس دپاره نهٔ هېرېدونکو قربانو باندې رڼا واچوله. وزیر اعلي صاحب په دې موقعه په خدائي خدمتګارانو ګلونه وشیندل او خپله کرسۍ ئې د صوابۍ ضلعې عبدالقادر خان کاکا ته پرېښوده او په خپله ئې هغه سټېج ته راوستلو.

وزیر اعلي صاحب په خپل تقریر کښې ووې چې کهٔ چرې په پښتونخوا صوبه او قبائلي سیمو کښې د ترهګرۍ دا لګېدلے اور په وخت مړ نهٔ کړے شي نو دا اور به په ټول ملک کښې خور شي او د دې ملک یوه برخه به ترې هم بچ پاتې نهٔ شي. دوي زیاته کړه چې د پښتونخوا اسمبلي د فاټا د

نمائندګی نه بغېر نیمګړې ده. دوي ووې چې مونږ د خپلې خاورې دپاره هر قسمه قرباني ورکولو ته تیار یو. دوي ووې چې مونږ به په دې موجوده امتحان کښې انشاء الله کامیابېږو. وزیر اعلی صاحب دا هم ووې چې کۀ چرې خدائي خدمتګارو قرباني نۀ وې ورکړې نو نن به مونږ دې مقام ته نۀ وو رارسېدلي. دوي ووې چې د باچا خان په نوم د مېډیکل کالج پرانسته شوې ده او ډېر زر به د خان عبدالولي خان په نوم د یونیورسټۍ بنیاد هم کېښودلے شي. دوي خلقو ته زېرے ورکړو چې ډېر زر به په ټوله صوبه کښې د باچا خان، ولي خان او خدائي خدمتګارو نومونو سره منسوب منصوبو باندې کار شروع شي. ښاغلي امیر حېدر خان هوتي ووې چې د صدر آصف زرداري د وېنا مطابق د سوات ضلعې د تعمیر او بیا ودانۍ دپاره ملک کښې دننه او د ملک نه بهر فرینډز آف پاکستان سره خبره فائنل شوې ده چې په دې سلسله کښې به فنډ ورکوي. وزیر اعلی صاحب په دې صوبه کښې د غربت ختمولو دپاره د صوبائي حکومت له اړخه شروع کېدونکي د یو ارب روپو د پروګرام چې د باچا خان په نوم به منسوب وي شروع کولو اعلان هم وکړو. په دې موقعه وزیر اعلی صاحب د خدائي خدمتګارو بچو ته د دوه سوه نوکرو ورکولو اعلان هم وکړو او د پارټۍ صوبائي تنظیم ته ئې ټوله صوبه کښې د خدائي خدمتګارو د فهرست ترتیبولو او په وړومبۍ مرحله کښې د دوه سوه ځوانانو مکمل کوائف برابرولو وېنا وکړه چې زر تر زره دې صوبائي حکومت ته حواله کړے شي.

بېګم نسیم ولي خان په خپل خطاب کښې ووې چې د پښتون قام او پښتنې خاورې خلاف یو سازش روان دے او د پښتنو وینه بې ځایه توئېږي. د خان عبدالولي خان په حواله دوي ووې چې ولي خان د عظیم پلار عظیم ځوے وۀ، یوه پوهه او ځیرک سیاستدان او مدبر دانشور وۀ

د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر افراسیاب خټک ووې چې د اتلسمې فرورۍ په عامو انتخاباتو کښې عوامو اې این پي په اکثریت سره کامیابه کړه او دا د دې خبرې ثبوت دے چې پښتنو د باچا خان او ولي خان د عدم تشدد په فلسفه، امن او ورورولۍ د خپل اعتماد اظهار وکړو. دوي ووې چې عوامي نېشنل پارټي به په پښتنه زمکه د امن راوستو پورې خپل جدوجهد جاري ساتي. صوبائي وزیر بشیر احمد بلور په خپل تقریر کښې ووې چې زمونږ آزادي د عظیم خدائي خدمتګار باچا خان او رهبر تحریک خان عبدالولي خان د لوئے جدوجهد او نۀ هېرېدونکو قربانو نتیجه ده. د پښتنو دې توریالو او دور اندېشه مشرانو د پښتون اولس دپاره خپلې ځوانۍ په جېلونو کښې تېرې کړې او پښتون قام ته ئې ازادي ورکړه خو د افسوس خبره دا ده چې د ازادۍ نه پس هم د دې عظیمو مشرانو د امتحان وخت ختم نۀ شو. دوي زیاته کړه چې د دې عظیمو مشرانو ګناه دا وه چې حکمرانان به ئې د راتلونکو خطرو نه خبرول او د هغې نه د ځان ساتلو مشورې به ئې ورکولې ولې د وخت حاکمانو به دا خپله بې عزتي ګڼله. زمونږ د

ملک حکمرانانو د دوي دواړو مشرانو د بصیرت او
بصارت قدر ونهٔ کړو او د دوي باقي ژوند هم په
جېلونو کښې تېر شو خو دوي همت نهٔ بائللو او د
پښتون اولس د خېر ښېګړې، خوشحالۍ او
سوکالۍ دپاره ئې تر مرګه خپل جدوجهد جاري
ساتلے وۀ.